وطندار Vatandar
سیاسی فرهنگی ادبی فلسفی

بســــــمل



# کرزی وایی دکندهار عملیات به تصفیوی

# وی نه جګړیز ؟؟

عزتمنو لوستونکو!

وړمه ورځ حامدکرزی هغه کندهار ته ولاړ په کوم کې چې افغـان میړنیو لکه میرویس نیکه، احمدشاه بابا او نورو ګڼ شمیر اتلانوخاپوړې کړې، ستر شوي او اتلولی یې لاس ته راوړې دي هو!

کرزی ورغی او د ماتم په تغر ناستو هغولاس او پښو ترلو مظلوموکندهاریانو ته کوم چې هم له پاسه او هم له ښکې د اور سکروټې پرې وریږي ووېل چې تاسې له موږ سره همکاري وکړئ .

دډېر افسوس ځای دی چې دا ښاغلی هم ځان ولسمشرګڼي اوهم دومره ماشومانه هیلې لري، له هغه ولس څخه همکاري غواړي کوم چې پخپله د ده له لاسه زولانه اوبرمته شوی دی دلته به په لاندې ډول سره هغه تصویر تاسو ته وښیم کوم چې دپراشوټي کرزي او نوي استعمار لمرنی شیبې انځوروي .

په تصویر کې دکرزي له رواني حالت څخه دهغه او ښکېلاککرونرمینځ دمرموزو نقشو شک په یقین بدلیږي .

له همدې ورځې بیا تر ننه به دمحکوم کرزي په کردار اوبې کیفایتي ځکه په تفصیل سره څه نه لیکم چې ستاسو قیمتي وخت ونه نیسم هسې څولنډ لنډمثالونه به یې تاسو ته دهمدې لیکنې په ترځ کې وړاندې کړم خو لمړی به راوګرزو د ارګمشر صاحب دې خبرې ته چې وایي دا عملیات به تصفیوي وي نه جګړیز؟؟

دجنګي جنایتکارانوملاتړی، افغان ولس دښمن، دتاریخي کندهار اوپښتنودغاړې طوق حامدکرزی دشمالي ټلوالي قاتلې ملېشې ملي اردو بولي وایي دا عملیات به افغان ملي اردو؟؟ او ملي پولیس؟؟ تر سره کوي .



غــــــزیــــــزانــــــو !

دهمدې کال دمارچ په لمړیو مانا درې میاشتې دمخه برید جنرال ویلیم بي کالډویل هغه امریکایي پوځي کوم چې تر ۲۰۱۱ زیږدیز کال پورې درې لکو ته د افغان امنیتي ځواکونو (اردواوپولیسو) د رسولو

مسؤولیت په غاړه لري بربنده کړه چي پښــتانه په پوځ کي دوه تر دريو سلیزه جوړوي په هغوکي هم يو شمېر په دروغو د پښتنو په نوم جزب شوي دي .
دښاغلي ویلیم بي کالډویل څرګندوني اوس هم دتاند په ارشیف کي په لاندي ډول وجود لري :

کالډویل : يوازې په سلو کې ۲تر۳ امنيتي ځواکونه پښتانه دي(

تاند(پنجشنبه/مارچ۴) ناټو د چهارشنبي په ورځ وويل چې د افغانستان په امنيتي ځواکونو کې د افرادو ،په تېره بيا پښتنوکم جذب اود زياتو ځواکونو تښتېدا د دې هيواد په جنوب کې د طالبانو په وړاندې د دوی د پرمختګ لوی خنډ دی .




بريد جنرال ويليم بي کالډويل ، چې تر ۲۰۱۱ کال پورې درې لکو ته د افغان امنيتي ځواکونو(اردو اوپوليس) د رسولو مسووليت په غاړه لري ، وويل د پوليسو له ليکو د کال په سلو کې پنځه ويشت او د ملي اردو له ليکو په سلو کې اتلس تښتي .

هغه خبريالانو ته وويل چې د ښو پوليسو فيصدي له شپېتو تراويا پورې دی .خودا قطعاً د منلو وړ نه دی .

امریکایی جنرال کادویل

د ناټو قومندانان وايي چې له افغانستانه د دوی د ځواکونو د وتلو لپاره حتمي ده چې د افغانستان ملي اردو او ملي پوليس پياوړې شي څو د خپل هيواد د امنيتي چارو مسووليت په يوازې سر په غاړه واخيستلای شي .

خو د دې ستراتيژی(له افغانستانه د نړيوالو ځواکونو د وتلو) برياليتوب له دې سره تړلی دی چې کافي شمېر افغانان په امنيتي ځواکونوکي جذب شي او سم وروزل شي .

د رويټرز خبري اژانس د راپور له مخې کالډويل وويل چې د امنيتي ځواکونو د معاشونو به زياتولو سره د ځواکونو جذب چټک شوی او د دسمبر له مياشتي راهيسې د مياشتي اووه زره افغانان په امنيتي ځواکونو کې جذبيږي خو د امنيتي ځواکونو په ليکو کې د پښتنو شمېر خورا کم دی او اوس د ټولو امنيتي ځواکونو په سلو کې يوازې له دوو تردرو پښتانه دي .

تردې مخکې د ناټو چارواکو ويلي وو چې بايد د افغانستان په امنيتي ادارو کې نه يوازې د سرتېرو په سلو کې ۴۴ پښتانه وي بلکې د افسرانو فيصدي هم په دې ډول وي خو اوس د پښتنو افسرانو فيصدي يوازې په سلو کې پنځه ده .دا په داسې حال کې ده چې په دې پنځه فيصدو کې هم ډېرو کسانو چې په خټه پښتانه نه دي ، ځانونه د پښتنو په نومونو ځای کړي دي .

کالډویل وویل :« موږ په امنیتي ځواکونو کې د پښتنو د شمېر له کموالي راضي نه یو.موږ غواړو چې دا وضعیت بدل کړو او داسې شرایط برابر کړو چې د افغانستان د جنوب پښتانه احساس کړي چې د دې هیواد اوسېدونکي دي ...موږ باید دوی ته سم شرایط برابر کړو چې په امنیتي ځواکونو کې شامل شي .»

کالډویل همداراز وویل چې ناټو غواړي یو تبلیغاتي کمپاین پیل کړي چې پښتانه په امنیتي ځواکونو کې شمولیت ته وهڅېږي او دی هیله لري چې په جنوبي ولایتونو کې به پیل شوي عملیات مرسته وکړي چې دامنیتي ځواکونو په لیکو کې د دغو سیمو اوسېدونکي لېوالتیا پیدا کړي .

د غزني د قره باغ یوه اوسېدونکي تاند ته وویل چې د دې ولسوالی خلک له وسله والو طالبانو بښه زړه نه لري او په زړمي کې ډېر خوشاله ول چې طالبان ، د هغه په وینا ورک شوي ول مګر د ولسوالی په مرکز کې تر مېشتو عسکرو او پولیسو چې درست د پنجشیر او شمالي اوسېدونکي دي ، طالبان غوره بولي ځکه چې طالبان په زوره نه له چا پیسې غواړي او نه د دې کار لپاره ځوک ځوروي .

د قره باغ دغه اوسېدونکي چې د امنیتي ستونزو له کبله یې نه غوښتل نوم یې واخیستل شي ، همداراز وویل :«خلک له طالبانو یوازې په دې خاطر بد وړي چې هغوی هلکان او نجوني ښوونځیو ته نه پرېږدي او اجازه نه ورکوي چې د دوی په سیمه کې د بیارغونې کارونه وشي .»



کالډویل د افغان ځواکونو د شمېر پر کموالي سربېره د خپل کار د لارې بل خنډ د نړیوالو روزونکو د شمېرکموالی بولي او وایي چې لا هم نولس سوه نورو روزونکو ته سخته اړتیا لري
.

ګرانو خویندو او ورونو!

اوس خو به موباور راغلی وي چې حامدکرزی نه تنها پخپله د شمال داړه ماروملېشو ته ملي اردو وایي بلکې دولس په سترګو کې دخاورو اچولوتر څنګ ولس دی ته



اړباسي چې دې ملېشو ته دملي اردو په سترګه وګوري ددې تر څنګ کندهاریوخویندواو ورونو ته لاهم داډ ورکوي چې داملېشې به ستاسوپه کلیو اوبانډو کې جګړه ونه کړي هسې تصفیه به وکړي ؟؟

وای وای کرزیه؟!

څه درته ولیکم؟

الله پاک دې تباه اوبرباد کړه چې ولس خلاصولای نه شي نور خو يې مه زېندۍ کوه هلته غلی د ارگ په سوړه کې وغزېږه ستايي په سياست او ولس څه چې نه دې خبره د يوسياستوال په خبر ده او نه ددې استعداد لري کله يوه غدار ته ور په غوږ شي او کله بل ته دا ستا ظرفيت اوواکمني ده؟



داخل چې دامريکا له مرموز سفر څخه را وگرزېدې نودکندهار عمليات دی د ظرفيت جوړوني او اداري فساد دله مينځه وړلو لپاره اړين وبلل .

اوس دې که په خپلوکړوخبروسرخلاصيږي بيا نودااشغالگرو اوبشکپلاککرو ته ووايه چې داعمليات صرف د کندهار په رسمي دفترونو کې وکړي نه دولسي وگړو او کروندگرو له حاصل څخه ډکو باغونو کې .

ارگمشره ؟!

ته فکر کوې چې اداري فساد او دظرفيتونو کمښت دانارو په باغونو کې دی ؟

نه نه اوس ټول ښه پوهيږي چې ستاله لاسه پښتانه بې کفنه دقبرونو په ځای په خندقونوکې دلی دلی خښيږي پخوا به که پرديو د پښتنو له سرونو څخه کله منارونه جوړول نن هغه دنده تا په غاړه اخيستې هم يې وژني هم پرې ژاړې .



ستا په کرغېړنه دوره کې دټول وژنو او عامه تباهي ور اخوادکندهارله مخورو، قومي مشرانو اوديني عالمانو څخه له دريو زرو څخه زيات کسان وژل شوي اودالړی همداسي روانه ده خوبياهم ستايارانوسردارمک کرستل وايي چې دکندهار عمليات وځنډول شول نو دا هره ورځ چې مخور کسان وژل کيږي دي ته به هم ته جگړه نه بلکې تصفيه وايې کرزی صاحبه؟!

په دې هم لا قناعت نه کوې اوس غواړې چې د لويې تصفي په پلمه په دا پاتي کونډو او يتيمانو هم هغه خدای ورکړې روزي (دکروندو حاصل) ودروې اودامريکايي بمباريو په اجرا سره د ښکلي کندهارشني باغچې زموږ د مظلومو او بې وسو کندهاريو خويندو او ورونو په پاکووينو رنگ کړې .

ما درته ټول عمر دگلونښار وبيلی دی ×× کله مې پيرزو يي په بمونو کندهاره

هو!

دمارجې په عملياتو کې تاسو کومه توره وکړه؟

ځومره ويني تويه شوې؟

كومه بيا رغونه وشوه ؟

كوم ښونځي ودان او كوم ولسپال سپېڅلي دولتي مامورين مو پرې وتپل ؟

ارګمشرصاحبه!

دا ځل كندهار ونړوه دميرويس نيكه، احمدشاه بابا، ايوب او اكبر په مېنه اور ولګوه يو پښتون هم چې درڅخه ژوندى پاته نه شي كه نه بيا به مكناټن له ګور څخه درپسي را پاڅيږي پرون يې هم لمسي (كامرون) دبېرنګيانو په پارلمان كي ووېل چي بريتانيا بايد په افغانستان كي نورو تلفاتو ته تياره شي .

اخېردا د څه لپاره؟

دا د هغه څه لپاره كوم چي ورمه ورځ امريكايي كارپوهانو ځرګنده كړه چي افغانستان د يو تريليون له ارزښت څخه زياتي طبعي زېرمي لري .

انګرېز صدراعظم كامرون دا هم ووېل چي موږ به له اړتيا څخه پرته يوه شېبه هم په افغانستان كي پاته نه شو.

هو!

ولي نه هر څه پوره كړئ جوالونه ډك درسره وېسئ اړتيا به مو پوره شي بيا نو تښتئ .

تاسي به په لندن كي مزې كوئ بې سره او بره افغانانو ته به جواړى هم نه پيدا كيږي ځكه چي زموږ زېر مې خو به له خيره سره تاسي وختئ دكرزي تر څنګ جنګي جنايتكارانو چي دملت او دولت ملكيتونه چور،لوټ لوټ ماڼى يې پرې جوړې كړې هغه به هم اوبه كړي وبه يې پلوري دا سرمايه به هم تاسو ته در وړي بانكونه به درته ډك او بله ورځ به يې تاسي په كومه ديموكراتيكه؟؟ پلمه ورڅخه كنګل كړئ له خير سره هو له خيره سره .

جنګي جنايتكاران به خوښ وي چي هم په سويس ، دوبۍ او نورو بانكونوكي پانګي لري هم اوس په قدرت كي دي او هم كه اله ګوله شوه نو تښتي به او ډك ډك جېبونه به لويديځو بانكونو ته ور وړي .

داخوب دي اوبو ته وواېي په وﷲ كه خو يوه تڼكه هم ور پرېږدي بس په هغه وخت كي به بياورته همدا ننني مك كرسټل دغو وايي چي له تاسو جنګي جنايتكارانو سره خو به اوس حساب كوو قاتلانو،حراميانو او نور. . .

دقاتلانو، هېوادفروشانواو اسلام دښمنانوله دلې څخه په تصوير كي دا لاندي ورګړې وګورئ دا كه ربښتيني ږيره واى خو د رسول اكرم (ص) له هدايت سره سم به يې حفاظت كړى و خونه دا ورګړې عطأ نور صرف دريا فرېب لپاره اوړدې كړې وې داخو د رباني صاحب مجاهدين وو اوس هم جهاد جهاد نارې وهي ؟؟

كومه وداني چي په تصويركي وينئ دا دمجاهد؟؟عطأ نور له لسكونوپانګوڅخه يوه هغه پانګه ده په كومه كي چي دودونو سالونونه جوړ شوي دي

په افغان ولس تپل شوى كرزى ځكه ولس او تاريخ ته محكوم دى چي هر جنايت ويني خوخوله پرې پټوي د بغلان دسمنټو له فابريكي څخه رانيولې بياد امان الله خان تر شهركه همدا راز دپارلمان وكيلانو دكاظمي او نورو اويا تنو زده كونكوپه ګډون وژنه او چاودنه هم كرزي ته روښانه ده ځكه خو يې ددې پيښې په معامله كي د دوبۍ په هوائي ډګر كي يونس قانوني او ضيأ مسعود له ډكو ډكو هغوقاچاقي بكسونو سره خوشي كړل په كومو كي







چي زموږ دنیکونو خورا مهم تاریخي کتبي اثار او په میلونونو ډالر ځای په ځای شوي وو.

گلو لوستونکو !

نور مو وخت نه نیسم که نه کرزي خو له افغان ولس سره دومره جفا وکړه او کوي یې چې زما په شان ډیر مظلومان به یې په لیکلو ستړي شي بس په همدې ځای خپله لیکنه لنډوم او له ټولو افغانانو او انسان دوستانو څخه دنړی په کچه هیله کوم چې دکندهارد خونړیو عملیاتو مخه ونیسي له افغان مقاومت څخه هم هیله کوم چې په لوی لاس پردیو ته پلمي په لاس ور نه کړي که دومره تکړه وي بلې سیمي ته دې ووزي که نه نو په خپلو چارو به موږ نور هم شکمن کړي .

یادونــــــــــــــــه:

ټولوګرانو ستونکوته په صداقت سره ډاډ ورکوم چې نه له کرزي او نه له کوم بل چاسره کومه شخصي ستونځه لرم نه یې په شخصي ډول کوم زیان راته رسولی دی خوخبره داده چې زه دخپل ګران هیواد او ګرانو هیواد والو په درد سوځیږم په دې هم ښه پوهیږم چې له ما څخه ډیر لوړ لوړ استعدادونه شته، هم ښه پوهیږي هم یې له ما څخه ممکین منطق لوړ وي خو په دې هم پوهیږم چې هغوی هغه څه نه لري کوم چې زه لرم هغه دا چې زه په ډګرخبرې کوم بې له خدای (ج) څخه له بل هیڅچا ویره نه لرم یوه ورځ راغلی یم او یوه ورځ به ځم ادا دلوړ منطق کسان چي نن ګونګي اوصرف دخپل سرخیرغواړي دابه هم یوه ورځ داسي ولاړ شي چې هیڅ به هم نه وي ور پاته

ځکه خوله دوی څخه احترامانه هیله کوم چې بې له کومې وېرې په ظلم اود لړکیو په استبداد پسې قلم را پورته کړي .

منــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــه

هغه گمارل شوي کس ته چي په ټول افغان کي یې د غوث الدین غوث په نوم په ما پسي له دروغو او بهتان څخه ډکه لیکنه کړې وه وایم چې یا دې زما لیکني نه لولې یادې له خپل کوم باسواده استاد سره یو ځای لولې تر څو سر یې سم پرې خلاص شي، پردی لیکني دې هم په ما نه را تاوانوي زه خو دومره وخت نه لرم چي پر هر کس اوناکس یې ولګوم خو کور دې دربشتینوافغانانوودان وي چې زما په ځای یې ځواب ورکړی وکه نه یې وي لوستی په ټل افغان کي دی په لاندې پته له خپل کوم باسواده استاد سره ولولې :

http://talafghan.com/messegesandreports/daghghawspazawabke=jamalsarter.html

بل به چیرې ستا په شان مکار نه وي ×× وي به خو همــدومره به غدار نه وي

ستا په څنګ کې پاک سرې ما ونه لید ×× نی منـــــــــــــي تر څو جنایتکار نه وي

**رفقا، دوستان عزیزتارنمای وطندار ! لطفاً نظرات، پیشنهادات، انتقادات، مقاله ها، نوشته ها، مضامین و مطالب علمی و تحلیلی خود را جهتِ نشر به ادرس پوست الکترونیکی سایت بفرستید**

admin@vatandar.at

مدیر مسوول : دیپلوم انجنیرعمر محسن زاده

صاحب امتیاز : انجنیرنجیب یوسفی

کلیه ی حقوق بر اساس قوانین کپی رایت محفوظ و متعلق به «وطندار» می باشد

**بقیه گزیده های مقالات**

http://www.vatandar.at/qadermasod

وطندار